# یاغیا ن

دا دغم ما ښا مونه  په خوښی کله بد ل شی
دا د یل په مټ زورواکی له قد رت کله ناچل شی
د ا  د افغا ن د ګڼ  اولس  د  وژلو  جلادان
دا  د بل چا  په قد رت په چوکی نا ست حا کما ن
دا  د خوارو له کا نډ ری  د ډوډی غټ سا رقا ن
دا دغرب اود عربو ټول لاس پوڅی  خا د ما ن
دادانګریز په مکتب کی  روزل شوی شا ګردان
دا  ظاهر کی افغا ن  په با طن  کی غلا ما ن
دا د افغا ن  د با نکونو د پیسوو  ټول لو ټماران
دا  د افغا ن  د اولس  ټول د خمکی  غا صبا ن
دا  د  خلکو  چي  غواړي  کفا ره د خپل  جهاد
دا چی  خپل بدی کړنی  ټول ایستلی دی  له یا د
دا  بی پت  او بی ادب د نهضت  ټول  د ښمنا ن
دا  له علمه  بی بهره  له  یوسره ټول  یاغیا ن
دا  د ښځو  د  آزادی  مخا لف  ډ لی  ټپلی
دا د ا نسا ن  اود  بشر له  دایری  ځنی  وتلي
دا  د  پونډ  او د ډالرو وږی تږی  ګد ایا ن
دا د خا وری  او د  وطن بډ  وهلی  غلیما ن
دا  د  شپی داړه ما ر  او د  ورځی  ریسا ن
دا  نا لوست  او نا فهم  لر او بر  قو ما ند انا ن

***

دوی له  یوسره  نا پوه  داوهام  په  دام کی  بند
د نهضت  او د پیشرف  ټول په مخ کی سره خنډ
دوی یو هم نه دی  افغا ن له  افغا نیت لری نفرت
له  یوسره  ټول  چوپړ  د  مقا م او د  ثروت
د دوی د ین دد وی ایما ن  پا نګی  او پیسی  دی
اقتدار او  چوکی  ته  هسی ډ یر  تلوسی  دی
دوی دبل چا په نیستی کی تل خپل هستی غواړي
څو چي وسه یی  رسیږی  له بدي ځنی نه اوړی
دوی  د  خپل  ګټی د پا ره  دین  آله  ګرځولی

په تسبیح اوسپین جا مو ښځی اونر یی غولولی
دوی د هر وطنپا ل د ا لحا د فتوا ورکړی
چی د دوی خوښه نه وه په شرمو یی شرمولی
ځنا ور داسی نه وی چی وطن خپل وران کړی
هر نیستمن او خواران په وهلو په ګریان کړی
هیڅ افغان نه سوځوی ښونځی او مکتبونه
هغه نه وی افغا ن چی کړی وران ټول کورونه
دوی خو ټول بد عمل له یو سره ټول اشرار دی
غټه ړیره قوما ندان کرغیړن ټوپکسالار دی
ها له یاده یی وتلی چی عشرونه ټولول
یا چي ځا ن له ډیر ډاره په غوجل کی پټول
***

وطنداره پرما ګرانه له درونډ خوبه زر بیدار شه
وخت تیریږی په بیړه سستی مکړه په تلوارشه
دآزادی بیرغ که لوړ دا شرمښی را نسکور که
وطنوالو سره ګډ دوحد ت نغمی را خپور که
کور په کور کلی په کلی افغا نا ن که را ټول
په ټینګ عزم او ثبات ښکاره که خپل رول
دا د خلکو دښمنان قد رت نه پریږدی په خوښه
څو چی وسه یی رسیږی ځوروی خلک نا حقه
له پردوکمک مه غواړه چی بی واک دی ګرځوی
په پردو د ډه کول تل وجدان دی ځوروی
دنیکونوپه لار لاړشه دښمن مه پریږده وطن کی
زا غ اوزغن نورمه پریږده په دی ښکلی چمن کی
دا د ځمکی غا صبا ن پرګنو ته رسوا که
مرورو افغا نا ن یو د بل سره پخلا که
ورا ن وطن بیا له سره پخپل مټ زر آباد که
د ناهیلو افغا نا نو غمجن زړونه ټول شا د که
د خوښی آهنګ که خپور هم په لر اوهم په بر
دوحد ت غږ که اوچت په تیرا او په خیبر
زر د «مل» آرمان پوره که وطنداره
تا ته ځما دواړه سترګی تل تر تله په لاره [۲۱-۵-۲۰۱۶ ]